# پوښتنې او ځوابونه: د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام

## د افغان ځانګړي مهاجرت ویزې (SIV) لرونکي.

### د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام څه ده؟

د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام وړ پیرودونکو ته تر **90** ورځو پورې د بیا میشتیدنې خدمات آنلاین وړاندې کوي. غوښتن لیک ورکوونکي د تلیفون، بریښنالیک، متن او ویډیو زنګونو له لارې د قضیې کارکونکي لخوا ملاتړ کیږي، او غوښتونکي سره مرسته کیږي چې په نوې ټولنه کې مدغم شي.
مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کې د ګډون لپاره دوه لارې شتون لري. دا پاڼه د افغانستان د ځانګړي مهاجرت ویزې **(SIV)** لرونکو لپاره عمومي معلومات چمتو کوي چې یوازې سفر کوي. که **USRAP** د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام په اړه تاسو یا کوم خپلوان سره اړیکه ونیسي او قضیهٔ د متحده ایالاتو څخه بهر موقعیت ولري، مهرباني وکړئ د بهرنیانو پوښتنې او ځوابونه وګورئ.

### څوک د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام لپاره وړ دی؟

- د ځانګړي مهاجرت ویزې یا اس آی وی لرونکي: وړ دي که دوی پخپله ملاتړ کوي او د آی او ام ملاتړ څخه خپلواکه راځي، او مور ته په شخصي توګه "واک ان" وکی . اوس مهال، د مجازی بیا میشتیدنې خدمتونه د اس آی وی لپاره یوازینی لار ده چې په شخصی کې راشي.
- د افغان بشردوستانه ویزې یا آچ آی پي لرونکې: که دوی د **2022** کال د سپټمبر له **30** وروسته داخل شوي وي او د بشردوستانه ویزې لرونکی میره، مور او پلار یا ماشوم چې د **31** جولای، **2021** او د **2023** د سپټمبر تر **30** پورې داخل شوي وي مستحق دي.

### د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کوم ډول خدمات وړاندې کوي؟

د مجازی انفرادي کیس مدیریت:

- د لومړنیو/عمومي امتیازاتو لپاره د غوښتن لیک په ورکولو او د روغتیایي معایناتو مهالویش کې مرسته.
- په ښوونځي کې د وړ ماشومانو په شاملولو کې مرسته .
- د کارموندنې پروګرامونو، د انګلیسي ژبې ټولګیو او د کډوالۍ خدماتو لپاره لارښود.
- سیمه ایزو سرچینو ته د لاسرسي او کلتوري ادغام کې مرسته.

مالي مرسته:

- هر سړی د لومړیتوب اړتیاو لپاره د **1.325** ډالرو سره یو ډیبیټ کارت ترلاسه کوي. د کوچنیانو لپاره نغدي مرسته د والدینو ترمنځ ویشل کیږي.

نوري مرستې:

- د **RE-11** ثبتولو بشپړولو او د ټاکل شوي خدماتو راجستر کولو لپاره لارښود.
- د تجربه لرونکي کیس منیجر سره لرترلږه دوه مجازی غونډو له لارې خوندیتوب او روغتیا لارښود د خوندیتوب او هوساینې اندیښنو ته د رسیدو لپاره.

## آیا زه کولی شم چې خپل حضوری برنامه مجازی ته بدل کړم؟

نه، یوځل چې تاسو د یو پروګرام خدماتو ته لاسرسی ومومئ، تاسو د بل لپاره ور نه یاست.

## کوم خدمتونه د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کې نه وړاندې کیږي؟

- **کور او د کور د توکو چمتو کول په برنامه کې شامل ندي.**
- د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام؛ په حضوری خدماتو کې د کیس مدیریت شامل نه دی.

## زه څنګه د دې پروګرام لخوا ورکړل شوي مالي مرستې/نغدي ترلاسه کولی شم؟

په برنامه کې د شامليدو وروسته ، تاسو به د هر شخص **$ 1,325** کریډیټ کارت ترلاسه کړئ. کارت به تاسو ته واستول شي، او ستاسو د کیس ورکر به تاسو سره مرسته وکړي چې څنګه یې وکاروي.

## هغه خدمتونه چې زه به یې ترلاسه کړم، ایا دا د حضوری کیس خدماتو ته ورته دي؟

نه، د مجازی بیا میشتیدنې خدمتونه د کیس مدیریت نیمه خپلواکه برنامه ده. ستاسو مجازی کیس ورکر به د بیا میشتیدنې دمخه خدماتو ته د لاسرسي په اړه معلومات چمتو کړي. مګر کور د کور توکي یا د ترانسپورټ وسیله نه ورکوي. پرځای یې، ستاسو د مجازی کیس ورکر لارښوونې سره، تاسو به د خپل نوي ښار او ژوند په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړئ.

## زه څنګه کولی شم د بیا میشتیدنې مجازی پروګرام کې راجستر کړم او د دې خدماتو څخه ګټه واخلم؟

- که تاسو د (ای آی وی) ځانګړي مهاجرت ویزه یا (پرولی) بشردوستانه ویزه لرئ او ستاسو له راتګ راهیسې د کومې اداري څخه د بیا میشتیدنې خدمتونه ندي ترلاسه شوي، تاسو کولی شئ **(201)733 2748** سره اړیکه ونیسئ یا **Virtual.RP@rescue.org** بریښنالیک واستوئ.
- له موږ سره له تماس نیولو وروسته، یو روزل شوی کیس ورکر به له تاسو سره د بیا میشتیدنې په موده کې ستاسو د اړتیاوو او اهدافو په اړه خبرې وکړي. په برنامه کې ستاسو د لومړیو **30** ورځو په جریان کې، د مجازی کیس مدیر به تاسو سره په اونۍ کې اړیکه ونیسي ترڅو ستاسو ملاتړ او لارښود وکړي.
- کله چې ستاسو د بیا میشتیدنې موده پای ته ورسیږي، دوی به تاسو ته د اړتیا په صورت کې نورو پروګرامونو ته لارښوونه وکړي د دې لپاره چې تاسو په متحده ایالاتو کې د خپل نوي ژوند جوړولو ته مرسته وکړئ.

## که زه نوي ځای ته لاړ شم مګر بیا هم د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام پای ته رسیدو وروسته مرستې ته اړتیا لرم. زه درته زنګ وهلی شم

- که تاسو د دې پروګرام له خدماتو وروسته بل ځای ته ځئ او فکر کوئ چې تاسو مرستې ته اړتیا لرئ، موږ به ستاسو په خدمت کې یو.
- تاسو کولی شئ **(201)733 2748** ته زنګ ووهئ یا **Virtual.RP@rescue.org** ته بریښنالیک وکړئ که تاسو کومه پوښتنه یا غوښتنه لرئ.
- زموږ د تلیفون شمیره د سهار له **9** بجو څخه تر **8** بجو پورې ده د ختیځ امریکا وخت، د دوشنبې څخه تر جمعې پورې فعال دی.

https://signpost-virtual-services.zendesk.com/hc/en-us